ډاکټر لودويگ آدمک
ترجمه: رحمت آريا

۲۰۲۶/۰۵/۰۶

# د افغانستان بايوګرافيکي قاموس
## دوهم ټوک
### (درې څلويښتمه برخه)

## محمد خان جلالر

کورنی ئې د ۱۹۳۰ز کال په شاو خواوو کې ډ وزبيکستان- ژ له فرغاني څخه افغانستان ته کډواله سوي ده او دی په ۱۹۳۶ز کال کې په اندخوی کې زېږېدلی دئ. په کابل کې د باباى خودي او د تجارت ليسي ته تللی دئ. د ۱۹۵۸ز کال په شاوخواوو کې ئـې خپل ليسانس د کابل پوهنتون د اقتصاد له پوهنځي څخه ترلاسه کړ. په ۱۹۵۸ز کال کې د پلان د وزارت د کارمندانو غړی وو. په ۱۹۵۹ز کال کې د پلان په وزارت کې د سوداګرئ د چارو مدير. په ۱۹۶۹ز کال کي د انسجام عمومي مدير او د ماليي رئـيس وو. په ۱۹۷۰ز کال کې د ماليي د وزارت مرستيال وزير وو. په ۱۹۷۲ز کال کي د ماليي وزير وو. په ۱۹۷۴ز کال کې د سوداګريزو چارو/ تجارت وزير وو. په ۱۹۷۶ز کال کې ئـې د افغان UNCTADIV د پلاوي مشري وکړه. په ۱۹۷۶ز کال کې ئـې په مانيلا کې ۷۷ ګروپ ته د افغان پلاوي مشري وکړه. په ۱۹۷۷ز کال کې مصر ته د ولسمشر داؤود د سفر مل وو. د خلقيانو د واکمنی پرمهال په صدارت عظمی کې اقتصادي مشاور وو. د ۱۹۸۰ز کال د جنورئ په مياشت کې د ببرک کارمل د واکمني پر مهال د سوداګريزو چاوز وزير سو. د انقلابي شورئ غړی. مورنی ژبه ئـې وزبيکي ده.

## ډاکټر عبدالرشيد جليلي

د عبدالجليل زوی په ۱۹۳۹ز کال کې په کونړ کې زېږېدلی دئ. د لومړني او منځني ښوونځي له بشپړولو وروسته خپله ماستري ئـې د امريکا په متحده اياالاتو کې اخيستي او وروسي ئـې خپله دکتورا په شوروي اتحاد کې تر لاسه کړې ده. خپله دنده ئـې د کابل پوهنتون د کرني په پوهنځي کې د مدرس په توګه پيل کړه. په ۱۹۶۹ز کال کې په مصر کې د څېړنو د يوهٔ پروګرام ګډونوال سو. د غوايي له پاڅون وروسته د کابل پوهنتون رئـيس سو او د ۱۹۷۹ز کال د اپريل په مياشت کې د معارف وزير سو. د ۱۹۷۹ز کال د جولای په مياشت کې د کرني او د ځمکو د اصلاحاتو وزير سو. دی يو خلقي ,امينيست" وو. د ۱۹۷۹ز کال د اکتوبر د مياشتي په ۲۳ نـېـټي د سياسي بيرو غړی سو. ويل سوي چي په ۱۹۸۰ز کال کې زنداني سو. په روسي او انګليسي ژبو خبرى کوي.

## نور محمد جليلي

د عدليي د وزارت مرستيال وزير. په ۱۹۸۲ز کال کې مجاهدينو وواژهٔ.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

## عبدالحمید جلیا

د رشید جلیا زوی. د شوروي اتحاد په تاجیکستان کي ئـي د درامي هنر لوستی دئ. د تیاتر ممثل او پرودیوسر. په ۱۹۸۱ز کال کي د افغان ننداري رئـیس. په ۱۹۸۰ز کال کي د عدلیي د وزارت مرستیال وزیر.

## رشید جلیا

په کابل کي زېږېدلی دئ. اعلیحضرت امان الله تورکیي ته د تحصیلاتو لپاره لـېږلی وو. د ۱۹۴۰ز لیسزې په اوږدو کي په کابل کي یو مشهور ممثل وو.

## جگړن جنت

د خلکو د کور ،ارگ ــژ، بولندوی. د حفیظ الله امین د ADC مشر. ویل کـېږي چي د نور محـمد تره کي یو له قاتلینو څخه دئ. جگړن جنت د ۱۹۸۰ز کال د جون د میاشتي په ۹ نـېټي اعدام سو.

## غلام رحمن جرار

د میرزا میا جان زوی په ۱۹۱۲ز کال کي د ننگرهار په چپ رهار کي زېږېدلی دئ. هم خصوصي تحصیلات لري او هم ئـي د هډي په نجم المدارس کي زده کړي کړي دي. د اقتصاد د خپروني محرر. د اتحاد مشرقي د ورځپاڼي مرستیال محرر. له ۱۹۴۷ تر ۱۹۵۷ز کال پوري د کابل راډیو ویاند / نطاق. د باختر د خبري آژانس د ژباړي / ترجمي د مدیریت مرستیال مدیر. د پښتو اکاډیمی غړی. د هېـواد د ورځپـاڼي محرر. د مالیي د وزارت رسمي مأمور. د جلال آباد د ښاروالی رسمي مأمور.د پښتو ژبي شاعر.

## عبدالحکیم شرعي جوزجاني

د سید معصوم زوی په ۱۹۳۵ز کال کي په شبرغان جوزجان کي زېږېدلی دئ؛ پلار ئـي قاري د قرآن او د اسلامي علومو عالم وو. په ۱۹۵۹ز کال کي د انیس د ورځپاڼي د تحقیق او مطالعي په څانگي کي مقرر سو. په ۱۹۶۰ز کال کي د شرعیاتو له پوهنځي څخه فارغ سوی دئ. په ۱۹۶۰ز کال کي د راډیو افغانستان د راپورترانو د څانگي غړی. په ۱۹۶۲ز کال کي ئـي د کابل په پوهنتون کي د ژورنالیزم په برخه کي تحصیل وکړ. په ۱۹۶۳ز کال کي د نورو زده کړو لپاره شوروي اتحاد ته لاړ. د ۱۹۶۵ز کال په ټاکنو کي ودرېـد. په ۱۹۶۶ز کال کي د آریانا د انسایلکو پیدیا غړی. په ۱۹۶۶ز کال کي د خلق د گوند د مرکزي کمیټي علی البدل غړی. په ۱۹۶۹ز کال کي بیا په ټاکنو کي ودرېـد خو کومه بریا ئـي تر لاسه نـهٔ کړه. په ۱۹۷۳ز کال کي یو ځل بیا د انسایکلو پیدیا په څانگي کي مقرر سو. دی هاغه پرچمی دئ چي له کارمل سره له یوې شخړې وروسته خلقی سو. په ۱۹۷۸ز کال کي د عدلیي وزیر او لوی څارنوال. د ۱۹۷۹ز کال د اکتوبر په میاشت کي د سیاسي بیرو غړی. د حفیظ الله امین له پرځـېدلو وروسته له کاره برطرف او زنداني سو.

## ډاکټر عبدالاحد جاوید

د حاجي عزت زوی، په ۱۹۲۵ز کال کي په کابل کي زېږېدلی دئ. د حـبیـبیـي د لیسي فارغ ؛ خپل لیسانس ئـي د کابل پوهنتون د حقوقو او سیاسي علومو له پوهنځي څخه تر لاسه کړ. خپله ماستري او دکتورا ئـي په پاړسي ادبیاتو کي د تهران له پوهنتون څخه تر لاسه کړه. د ادبیاتو د پوهنځي پوهاند. د راډیو افغانستان د نشراتو مشر. په ۱۹۶۷ او


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ

۱۹۶۸از کلونو کې د تاشکند په پوهنتون کې مېلمه پروفیسر. له ۱۹۷۲ تر ۱۹۷۳از کال پورې د کابل پوهنتون رئیس. له ۱۹۸۰از کال تر اوسه پورې د افغانستان د علومو د اکاډیمۍ د دري د دیپارتمنت محقق. د ګڼ شمېر آثارو لیکوال. مورنۍ ژبه ئې دري ده. لومړی ئې له مېرمن صوفیا نعیم سره او بیا ئې له نفیسه هاشم سره وادهٔ وکړ.

## محمد جُنـَید علیزی

په ۱۹۲۶از کال کې د هرات په کوهسان کې زېږېدلی دئ؛ (علیزي د پښتنو یوه قبیله ده چې د ۱۹۲۰از لسیزې راهیسې ئې په دري ژبې خبرې ویل پیل کړي دي.) محمد جنید خصوصي تحصیلات کړي دي. د هرات له کوهسان څخه د ولسي جرګې غړی. له ۱۹۷۸ تر ۱۹۸۰از کال پورې د پلچرخي په زندان کې زنداني خو وروسته د کابل له حکومت سره یو ځای سو. په ۱۹۸۳از کال کې د مجاهدینو له پلوه ووژل سو. مورنۍ ژبه ئې دري ده. د هرات د جنرال عبدالقادر خپلوان دئ.

## جوره بیګ

(د غوايي له پاڅون وروسته) د هوايي ځواک او د هوايي مدافعې د اکاډیمۍ/ پوهنتون بولندوی.

## غلام حسین جویني

په ۱۹۳۶از کال کې د فراه په جوَین کې زېږېدلی دئ. خپل لیسانس ئې د میشیګن له پوهنتون او ماستري ئې د پیټسبرو له پوهنتون څخه تر لاسه کړې ده. له ۱۹۷۰ تر ۱۹۷۶از کال پورې ئې په واشنګټن ډي. سي کې له IMF او نړۍ وال بانک سره کار کړی دئ. په «د افغانستان بانک» کې ئې د مدیر د مرستیال، عمومي مدیر، د ګورنر مرستیال او په ۱۹۸۱از کال کې د افغانستان بانک د ګورنر په توګه کار کړی دئ. په کابل کې د بانکدارۍ د انستیتیوت ښوونکی. د تره کي او حفیظ الله امین د حکومتونو لپاره ئې د سلاکار په توګه کار کړی دئ. له افغانستانه ووت او په ۱۹۸۵از کال کې د سومالیا په موګه دیشو کې د نړۍ وال بانک د نړۍ وال مالي بودیجي سلاکار سو. مورنۍ ژبه ئې دري ده.

## محمد سرور جویا

د حاجي میرزا حسین زوی په ۱۸۹۸از کال کې زېږېدلی دئ؛ (حاجي میرزا حسین : سررشته دار، د مالي دیپارتمنت مشر، د چنداول له یوې شیعه کورنۍ څخه). جویا لیکوال او شاعر وو. د چاپ چارې ئې په شوروي اتحاد او عراق کې زدکړلې. له ۱۹۱۹ تر ۱۹۲۴از کال پورې د اعلیحضرت امان الله د دربار کاتب. په هرات کې ئې د دانش د مطبعې بنسټ کښېښود او تر ۱۹۲۸از کال پورې ددې مطبعې مدیر وو. له ۱۹۲۸ تر ۱۹۳۰از کال پورې په هرات کې د اتفاق اسلام محرر. په ۱۹۳۰از کال کې د نادر شاه د پلویانو له لوري تېپي سو. له ۱۹۳۱ تر ۱۹۳۲از کال پورې د غلام محي الدین انیس له ادبي ټولنې سره یو ځای سو او د لنډ وخت لپاره د انیس محرر وو. په ۱۹۳۳از کال کې د کابل د ادبي ټولنې غړی. په ۱۹۳۳از کال کې د نادر پر ضد د لیکنو په پار زنداني سو. په ۱۹۴۶از کال کې په زندان کې د ۱۳کالو له تېرولو وروسته د صدر اعظم شاه محمود له لوري آزاد سو. د کوپراتیف د ډیپو د عمومي مدیر په توګه وګومارل سو. په ۱۹۴۸از کال کې د کابل د ښاروال په توګه وټاکل سو. د وطن د خپروني بنسټ ایښودونکی. په ۱۹۵۲از کال کې یو ځل بیا زنداني سو او په ۱۹۶۱از کال کې په زندان کې وفات سو.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

**محمد نسيم جويا**

په ۱۹۸۰ز کال کې د جبهۀ ملي پدر وطن د ملي کمیټې رئیس. د غوايي له پاڅون وروسته د تبليغ او ترويج د کمیټې د سياسي زدکړو مسؤول.

**جوزجاني** : وګورئ : جوزجاني

**جويني** : وګورئ : جويني

**نور بيا**

**فاطمه کيفي مينه يار**

د جنرال سيد محمد اکبر مينه يار لور په ۱۹۳۷ز کال کې په کابل کې زېږېدلې ده. د...

قدرمنو لوستونکو! د ښاعلي رحمت آريا د آرشيف: لينک


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ